مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۱ / ۲۰

# ناآشنا ساقي

وګړي يي بدل دي خو دا ښار راته اشنا دی
د رڼګ او کنډواله کلي چنار راته اشنا دی
شملي د چرګ لکی غوندي سرونو باندي دنګي
سرونه هغه نه دي خو دستار راته اشنا دی
د باد په لور کږيږي، د ثبات تپوس يي مه کړه
د خلکو لاپي باتې او کردار راته اشنا دی
توپير پکي د زرو او د جسو بيخي نشته
سرې پکي خرڅيږي دا بازار راته اشنا دی
خاپونه د ښپيړو يي پر مخ لا هم شمېرمه
لاسونه ناآشنا دی، خو ګوزار راته اشنا دی
چلوټي، دسيسي يي وخت په وخت سره لوڅيږي
په عمق د توطيي پوه يمه، غدار را ته اشنا دی
**ساقي هم ناآشنا دی او جامونه بيګانه دي**
**د داسي ميخاني زوړ کاروبار راته اشنا دی**
وختونو سره بېل کړو، زړونه نه سره بېليږي
د مستو شوخو سترګو يي ديدار راته اشنا دی
د نجونو په ټولي کي چي د پښو پر څوکو درومي
هوسی غوندي په لاره يي رفتار راته اشنا دی
ډېوه د خاطرو به يي مزار کي بله ساتم
په لويه هديره کې يي مزار راته اشنا دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ